# د غیر دولتي مؤسسو د ریپورټ ورکولو لارښود

دغه لارښود د د غیر دولتي مؤسسو د قانون پر اساس د ریپورټ ورکولو پــه اړه ترتیــب شوی دی.

د پـه ګټیو نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز(ICNL)
دا لار سود تهیه کړي ده.

USAID FROM THE AMERICAN PEOPLE — ICNL — COUNTERPART

فهرست:


**پیژندګلوي:** ......................................................................... 6

**۲. د ریپورټ ورکولو په اړه نړیوالې ښې تجربې:** ............................................. 8

الف: د نړیوال قانون له پلوه.................................................... 9

ب. د یوه مشترک مقصد شفافیت او حساب ورکول...................... 11

ج. د حساب ورکولو د یوې ښې وسیلې په توګه ریپورټ ورکول ............ 13

د. د ریپورټ ورکولو د فورمې محتویات.................................... 14

ر. تطبیق ..................................................................... 17

**3. د انجوګانو د قانون پر اساس د ریپورټ ورکولو اړتیا** ...................................17

**د تطبیقوونکو مؤسسو په وسیله د (۰۱) فورمې د ډکولو طریقه:**.................................. 34

**د (۰۲)فورمو د ډکولو او وړاندې کولو طریقه** ............................................38

## د غير دولتي مؤسسو د ريپورټ ورکولو لارښود

دغه لارښود د قانون پر اساس د ريپورټ ورکولو په اړه ترتيب شوی دی.

ددغه ريپورټ د ترتيب او تدوين هدف دا دی چې (۱) غير دولتي مؤسسې او انفرادي شخصيتونه چې له مؤسسو سره سر او کار لري، لارښوونه يې وکړي چې د ريپورټ ورکولو پرمهال د افغانستان د اساسي قانون له احکامو سره سم اجراات وکړي او (۲) دا چې د اقتصاد وزارت او ولايتي اداري يې د قانون د تر ټولو ښه تطبيق او د پورتنيو ذکر شوو ادارو د کارمندانو د ظرفيتونو د لوړولو او مسلکي کېدو په هکله هلې ځلې وکړي.

دغه لارښود د په ګټو نه ولاړ قانون له پاره نړيوال مرکز (**ICNL**)په وسيله ترتيب شوی دی چې د همغږۍ د مؤسسو لکه(**ACBAR**)نظريات هم په کې منعکس شوي دي. په عين حال کې دغه لارښود د انجوګانو د رياست د ښاغلی رئيس له خوا هم مطالعه او تائيد شوي دي.

که څه هم د مؤسسو د رياست نظريات به دغه لارښود کې په نظر کې نيول شوي دي، خو بيا هم ټول هغه موضوعات چې په دغه سند کې چاپيږي، په مؤلف پورې اړه لري او د افغانستان د اسلامي دولت د رسمي نظرياتو انعکاسونکي نه دي. په دغه لارښود کې ټول معلومات په غير رسمي توګه برابر شوي دي، او په افغانستان کې د نافذو قوانينو او د نړيوالو ښو تجربو څخه د مؤلف فهم او درک انعکاسوي. دغه لارښود بايد د مشورې يا حقوقي نظر په توګه ونه ګڼل شي.



بايد د قوانينو د اصلاحاتو په اړه د افغانستان اوسني شرايط په نظر کې ولرو، ځکه چې هر مهال د نوو قوانينو د تنفيذ او په نافذو قوانينو کې د تعديلونو د را تلو امکانات شته چې په دغه لارښود يې اغېزې لرلی شي، ځکه خو موږ دا وړانديزوو چې په افغانستان کې د قوانينو د اصلاح له بهير څخه ځانونه خبر وساتو.

د په ګټو نه ولاړ قانون له پاره نړيوال مرکز(ICNL) د محتوياتو او ( د تېروتنو د اصلاح کولو) له پاره نظريات په ورين تندي مني. د غير دولتي مؤسسو د تأسيس، د مؤسسو د ريپورټ ورکولو او په افغانستان کې د مدني ټولنې په اړه د انکشافاتو او دغه راز ددغه لارښود د کاپي د ترلاسه کولو په اړه له ښاغلي ايمل سنجيده سره په لاندې برېښناليک پته اړيکې ټينګې کړئ:

aemal@counterpart-afg.org

د په ګټو نه ولاړ قانون له پاره نړيوال مرکز(ICNL) له کاونټرپارټ نړيوالې مؤسسې او د امريکا د متحدو ايالتونو د نړيوالې پرمختيايي اداري څخه مننه کوي چې ددغه لارښود د چاپ او خپرېدو له پاره يې مالي مرستې برابرې کړې دي.

ددغه لارښود بل هدف دا دی چې روڼولي او حساب ورکولو، ځواب ورکولو او ريپورټ ورکولو اصل په هېواد کې د نافذو قوانينو په ځانګړې توګه په افغانستان کې د غير دولتي مؤسسو د قانون پر وړاندې د يوه قانوني مکلفيت په توګه توضيح او روښانه کړي، او مؤسسې وکړای شي د پروژو ريپورټ له مالي لګښتونو سره يو ځای په ساده او روښانه توګه وړاندې کړي. البته د

شپېرمیاشتنیو، کلنیو او مالي رپوټونو وړاندې کـــول غیردولتـــي مؤسســـې د متعهدو او مسؤولو مؤسسو په توګه په افغان ټولنه او د بنو خلکو په کتـــار کې دروي او هغه منفي ذهنیت چې د انجوګانو د فعالیتونو په اړه له خلکو سره شته دی، له منځه وړي. د غیر دولتي مؤسسو نقـــش د دولـــت او خصوصـــي سکتور تر څنګ د لیدنې او لمس وړ دی او غیر دولتي مؤسسو ته د افغانستان د بیا رغونې او پراختیا په بهیر کې د فعالو برخه اخیستونکو په توګـــه پاملرنـــه ښایي چې وشي.



**پېژندګلوي:**

غیر دولتي مؤسسې د غیر دولتي مؤسسو په قانون کې په واضحه توګـــه بیـــان شوې دي، او د غیر دولتي مؤسسو د قانون پر اساس داخلي مؤسسې، بهرنـــۍ مؤسسې او نړیوالې مؤسسې په کې شاملې دي. داخلي مؤسسه عبارت ده لـــه: یوه غیر دولتي مؤسسه چې د مشخصو هدفونو د ترلاسه کولو له پاره رامنځتـــه شوې وي(۵مه ماده ۲مه فقره). بهرنۍ مؤسسه عبارت ده له: یوه غیر دولتـــي مؤسسه چې له افغانستان څخه بهر د بهرني هېواد له قانون سره ســـم تأســـیس شوې وي، او ددغه قانون شرایط یې منلي وي (۵مه ماده ۳مه فقره). نړیوالـــه مؤسسه عبارت ده له: یوه غیر دولتي مؤسسه چې له افغانستان څخه بهر د هغه هېواد له قانون سره سمه تأسیس شوې وي او له یوه څخه په ډېرو هېوادونو کې فعالیت کوي (۵مه ماده ۴مه فقره). او دغه راز د داخلي مؤســـو یـــوه بلـــه ځانګړې کټګوري هم د غیر دولتي مؤسسو په قانون کې تصریح شوي دي چې د مؤسسو د همغږۍ او د مؤ د چتر څخه عبارت دي( نهمه ماده لومړۍ فقره).

د غیر دولتي مؤسسو ټولې کټګورۍ چې په قانون کې تعریف شـــوې دي، پـــه رپورټ ورکولو مکلفې دي. دغه لاربنود [1]د غیر دولتي مؤســـو د قـــانون د حکمونو سره سم د رپورټ ورکولو د مسؤولیتونو په اړه برابر شوی دی۲. د

موسسات زمانی مکلف به ارایه گزارش به وزارت ها دیگر، تمویل کننده ها و سکتور خصوصی میگردد که پروژه به اثر قرار داد و یا تفاهم نامه صورت گرفته باشد. و همچنان موسسات مکلف به ارایه گزارش مسولیت مالیه 1 هستند.

غير دولتي مؤسسو قانون په [2]۳۱مه ماده کې د مؤسسو له خوا د رپورټ ورکولو په اړه صراحت لري. د قانون ددغې مادې سره سم:

**۳۱مه ماده:**

(1) مؤسسه مکلفه ده د مالي کال له پای ته رسېدو وروسته، د دريو مياشتو په موده کې د خپلو کلنيو ترسره شوو فعاليتونو رپوټ اقتصاد وزارت ته وړاندې کړي.

(2) مؤسسه مکلفه ده په هرو شپږو مياشتو کې د خپلو فعاليتونو رپوټ د هغې فورمې مطابق چې د اقتصاد وزارت له خوا برابر او عندالضرورت د اصلاح وړ ده، د اقتصاد وزارت ته وړاندې کړي.

(3) دشپږو مياشتو رپوټ د اصلي نسخې په ډول ، درې نقله برابر او اقتصاد وزارت مرکزي دفتر او سيمه ييزو دفترونو ته د رسيد په مقابل کې سپارل کېږي، سيمه ييز دفترونه مکلف دي رپوټ په لنډ وخت کې د اقتصاد وزارت مرکزي دفتر ته واستوي.

(4) شپږ مياشتنی رپوټ د هېواد په يوه رسمي ژبه برابرېږي.

(5) مؤسسه مکلفه ده د خپل رپورټ يوه کاپي هغه سکتوري اړوند وزارت ته چې د پروژې قرارداد يې له مربوط وزارت سره لاسليک کړی دی، واستوي.

[2] ماده 31 ماده کليدی در رابطه به گزارش دهی ميباشد.



عملاً په دغه درې کاله چې د قانون له تنفيذ څخه تېر شوي دي، د رپورټ وړاندې کولو په برخه کې زياتې ستونزې را منځته شوې دي. ددغه لارښود آر هدف دا دی چې په واضحه او ساده ژبه دغه لاندې موضوعات بيان کړي:

(1) د مؤسسو د رپورټ ورکولو او د فعاليتونو د څارنې په اړه د نړيوالو ښو او عملي تجربو بيانول.

(2) په افغانستان کې د رپورټ ورکولو د رواج شوې کړنلارې بيانول.

(3) د رپورټ ورکولو د هغو فورمو بيان چې مؤسسې يې اقتصاد وزارت ته په سپارلو مکلفې دي.

ددغه لارښود نقش او اغېزې به دا وي چې پر خپل وخت او له قانون سره سم د رپورټ ورکولو وضاحت د مؤسسو له پاره تشريح کړي او دغه راز د اقتصاد وزارت د انجوګانو رياست او د ولايتي رياستونو د مسلکي پياوړتيا لامل په ټول افغانستان کې ګرځي.

### ۲. د رپورټ ورکولو په اړه نړيوالې ښې تجربې:

په نړۍ کې د رپورټ ورکولو کومه ځانګړې تګلاره نشته. کله چې مونږ د نړيوالو ښو تجربو څخه خبرې کوو، زمونږ هدف له عمومي اساساتو څخه دی چې د ټولو له پاره د منلو وړ دي، د مؤسسو د فعاليتونو په اړه د حساب ورکولو او روڼولۍ په اړه د دولتونو د پرېشانيو په هکله او د هغې مطالعې پر اساس چې په سلو هېوادونو کې ترسره شوې ده، د په ګټه نه ولاړ قانون له پاره

نړیوال مرکز د ریپورټ ورکولو او څارنې په هکله د" ښو تجربو" بیان وړاندې کوي.

**الف: د نړیوال قانون له پلوه**

د مدني ټولنې فعالیتونه په افغانستان کې په دې اساس استوار دي چې هر انفرادي شخص ددې حق لري چې ټولنې په آزاده توګه را منځته کړي. په آزاده توګه د ټولنو را منځته کول[3] د بشري حقونو په نړیواله اعلامیه او دغه راز د مدني او سیاسي حقونو په کنوانسیون کې درج شوي دي. افغانستان په ۲۰۰۴م کال کې د نافذ شوي اساسي قانون له مخې د نړیوالو قوانینو په مراعات خپل ځان مکلف ګرځولی دی. د افغانستان د اساسي قانون 7.1 ماده داسې صراحت لري: دولت د ملګرو ملتونو منشور، د دولتونو تر منځ تړونونه، نړیوال هغه کنوانسیونونه چې افغانستان ورسره یو ځای شوی دی، او د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه رعایتوي.

نړیوال قوانین د ملي قوانینو پر وړاندې عکس العمل څرګندوي چې د نړیوالو قوانینو درج شوي حقونه محدودوي. او د دولت مداخله باید د خلکو د اساسي آزادیو له مخې د توجه شوو دلیلونو پر بنسټ وي. د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون په 22.2 مه ماده کې د محدودیت حق ټاکلی دی.

3 اعلامیه جهانی حقوق بشر (1948) صراحت دارد که هر کش حق آزادی اجتماع ها را دارا است. میثاق بین المللی حقوق مدنب و سیاسی (1976) که افغانستان در سال (1983) آنرا امضا نموده است و تقریبآ 140 کشور آنرا امضا نموده اند ، آزادی اجتماعات را حمایت نموده است." هر کس حق آزادی اجتماع را با دیگران دارا است. به شمول ایجاد و 3پیوستن به انحادیه های تجاری بخاطری تامین منافع شان.



هېڅ ډول محدودیت پر دغه حق(له نورو سره د آزادو ټولنو او غونډو جوړول) نه شي وضع کېدلی، مګر دا چې په قانون کې یې صراحت شوی وي، او یا هم دا چې دا په ولسواکو ټولنو کې اړین وي، او یا هم د خلکو د ملي امنیت او ټولنیز مصؤونیت، د عامه نظم، د صحت او عامه اخلاقو د ساتنې، او یا هم د نورو د آزادۍ او حقونو د ساتنې په خاطر وي.

د بشر د[4] حقونو کمېټې د مدني او سیاسي حقونو کمیسون دغه موضوع په تفصیل بیان کړې ده: " که دغه ډول محدودیت وضع شوی وي، دولت باید له کنوانسیون څخه د اغېزمن او دوامدار ملاتړ په موخه مناسب اقدامات وکړي، او په هېڅ حال باید وضع شوي محدودیتونه پر کنوانسیون منفي اثر ونه کړي. 5 "

په آزاده توګه د ټولنو د تشکیل له پلوه، دولتونه نباید بې سببه مداخلې وکړي، د یوې غیر دولتي ټولنې یا نهاد د رامنځته کېدو پر مهال او یا دا چې کله یو نهاد تأسیس کړل شي، ددوی د فعالیت په مخ کې خنډ واقع شي، او ټولنې باید د مستقل شخصیت په توګه فعالیت وکړي. ټول هغه قواعد چې د غیردولتي مؤسسو د فعالیتونو د څارنې او یا هم د ریپورټ ورکولو په اړه وضع کېږي، باید مناسب وي، او دغه راز د بیان د آزادۍ، او د سوله ییزو ټولنو او غونډو د جوړولو کې د مداخلې لامل ونه ګرځي. نړیوالو قوانینو د معلوماتو هغه ډول چې حکومت یې له غیر دولتي مؤسسو څخه غواړي ترلاسه کړي، محدود کړي

4 کمیته میثاق حقوق مدنی و سیاسی به اثر نظر عمومی شماره 31161 اعضا، دول عضو را مکلف به [4]پیروی مینماید.

دي، او حکومت يوازې د غوښتنې پر اساس کولی شي د اړتيا وړ معلومات شترلاسه کړي.

**ب. د يوه مشترک مقصد شفافيت او حساب ورکول**

د غير دولتي مؤسسو له خوا د ريپورټ ورکولو بهير کولی شو په دې توګه توجېه کړو: د خلکو ملاتړ له دايربدو څخه، له مرستو څخه ناوړه استفاده او د نورو د حقونو او آزادۍ نقض. د غيردولتي مؤسسو له خوا د حساب ورکولو او روڼولۍ په اړه او يا هم د مالي امتيازونو(د ماليې د معاف کېدو او يا هم د دولت له خوا د مرستو له پلوه) او د مالي حساب ورکولو له مخې. په مختصره توګه له مؤسسو څخه د دولت د څارنې اصل دليل د مؤسسو له حساب ورکولو او روڼولۍ په موخه دی. په زياترو هېوادونو کې چې مؤسسې له دولتي مرستو څخه ګټې اخلي، له هغوی څخه د حساب ورکولو او روڼولۍ ډېره توقع د هغوی د چاپېريال پر وړاندې کېدلی شي.

حساب ورکول د يوه مکلفيت او يا هم د يوه مسؤوليت قبلول د يوې مؤسسې يا شخص د عمل په مقابل کې ګڼل کېږي. او ګرد چاپېريال يې بيا ګټې پورته کوونکي، تمويلوونکي، دولت، او نور برخه اخيستونکي دي. حتی غړې مؤسسې هم بايد ټولنې ته حساب ورکوونکې وي. د يوې مؤسسې له پاره حساب ورکول په دې معنی دي چې مؤسسه بايد خپل امتيازونه او سرچينې په اساسنامه کې د ذکر شوو هدفونو پرخلاف ونه کاروي.

شفافيت او حساب ورکول د دولت، مؤسسو او ګټو پورته کوونکو او تمويلوونکو تر منځ بايد د يوه مشترک هدف په توګه وي، له دې بنسټونو څخه



هر يو د روڼولۍ او حساب ورکولو په برخه کې خپله ونډه لوبوي، او د مؤسسو د روڼولۍ او حساب ورکولو په اړه مختلف ډول وسيلې شته دي. غير دولتي مؤسسې ځينې وختونه د داخلي ريپورټ ورکولو کې هم مصروفې وي، په دې معنی چې مؤسسې مديره هيأت، اجرايوي هيأت او يا عمومي مجلس ته ريپورټ وړاندې کوي، او همدا راز تمويلوونکې ټولنه د تړون او يا هم د مرستو د پروتوکول پر بنسټ مؤسسو ته مرستې وړاندې کوي، او مؤسسې په دې مکلفوي چې تمويلوونکې ټولنې ته هم ريپورټ وړاندې کړي، چې په توګه تمويلوونکې ټولنې پر ګټو پورته کوونکو د خپلو مرستو له اغېزو څخه خبر شي. ګټې پورته کوونکي له دې سره لېوالتيا ښيي چې د مؤسسو له حساب ورکول څخه خبر ترلاسه کړي، خلکو ته د مؤسسو د کارونو ښودنه، د ګټو پورته کوونکو له پاره ښه زمينه مساعدوي چې د مؤسسو فعاليت وڅاري، او په عين حال کې مطبوعات هم کولی شي د مؤسسو فعاليت ګام پر ګام تعقيب کړي.

دولت له مؤسسو څخه د ريپورټ د ترلاسه کولو په برخه کې د يوه لوبغاړي په توګه خپل نقش لوبوي، البته د دولت علاقمندي د مؤسسو د حساب ورکولو او روڼولۍ په برخه کې د ګټو پورته کوونکو له علاقمندۍ څخه توپير لري. په عين مهال کې مختلف دولتي ارګانونه د غير دولتي مؤسسو د فعاليتونو په هکله ښايي چې د څارنې مختلفې علاقمندۍ ولري. او په همدې توګه غير دولتي مؤسسې هم مختلفو ارګانونو ته د ريپورټ ورکولو مکلفيت لري، د مثال په توګه د څارنې اصلي ارګانونه، د ماليې مقاماتو او دغه راز د جواز د صادرولو مقام ته د ريپورټ ورکولو مکلفيت لري (په هغه صورت کې چې مؤسسه په کومه ځانګړې تخصصي برخه کې فعاليت کوي). د څارنې اصل ارګان ښايي د قانون له نظره د څارنې کار ته ډېر متوجه وي، په داسې حال کې چې د ماليې

مقامات د مؤسسو د مالیې او له مالیې څخه د معافیت موضوعاتو ته متوجه وي، او د جواز د صادرولو مقام بیا د مؤسسې ځانګړو یا تخصصي فعالیتونو ته متوجه وي.

د څارنې د یوې لارې چارې د را منځته کولو او پلي کولو له پاره مهمه ده چې پوه شو چې د مؤسسو حساب ورکول د یوه مشترک مقصد په توګه د مختلفو لوبغاړو تر منځ چې له مشخصو وسیلو څخه استفاده کوي، دی. د دولت څارونکی نقش نه شي کولی چې ټولې ساحې تر پوښښ لاندې راولي، او یوازې د خپلې خوښې او علاقې تر ساحې پورې تمرکز کوي.

## ج. د حساب ورکولو د یوې ښې وسیلې په توګه ریپورټ ورکول

ښایي د حساب ورکولو یوه تر ټولو اساسي او بنسټیزه وسیله، ریپورټ ورکول وي. تقریباً د نړۍ په ټولو هېوادونو کې، حکومتونه له مؤسسو څخه ریپورټ غواړي یا کم تر کمه د مؤسسو له یوې خاصې کټګورۍ څخه ریپورټ غواړي. په عین زمان کې د ریپورټ ورکولو ضرورت هم په مختلفو ساحو کې او هم د معلوماتو د څرنګوالي او د ریپورټ د تفصیل د درجې له پلوه توپیر کوي.

په ځینو سیسټمونو کې، یو شمېرټاکلې مؤسسې مکلفیت نه لري چې په تفصیل سره د خپلو فعالیتونو او مالي موضوعاتو په هکله ریپورټ وړاندې کړي. د مثال په توګه وړې د دوه اړخیزه ګټو مؤسسې په ریپورټ ورکولو مکلفې نه دي، خو په مقابل کې ور څخه غوښتل کېږي چې په مؤسسه کې د راغلو بدلونونو په هکله معلومات وړاندې کړي، دغه ډول مؤسسې پر خلکو زیاتې اغېزې نه لري، په همدې توګه خو ذ دولت څارونکی مقام هم د دغې مؤسسې د څارنې علاقه



نه لري. ددې پر عکس هغه مؤسسې چې په اقتصادي فعالیتونو کې دخیلې دي، او یا هم له دولت څخه مرستې ترلاسه کوي،او یا هم له خلکو څخه مرستې ترلاسه کوي، دغه ډول مؤسسې بیا مختلفو دولتي یا حکومتي ارګانونو ته په ریپورټ ورکولو مکلفې دي. خو د ریپورټ ورکولو بار باید پر مؤسسو یوازې له ترلاسه کېدونکو مرستو سره سم وي، نه له ترلاسه کېدونکو مرستو څخه زیات.

د ریپورټ ورکولو ایجابات باید په خپل ځان کې احکام ولري، چې په دې توګه د مؤسسې له محرمو معلوماتو څخه ملاتړ وکړي. د ریپورټ ورکولو قواعد باید د محرمیت د ساتنې له قوانینو او قواعدو سره سم وي. (د مثال په توګه د مؤسسې د کارمندانو د صحي موضوعاتو په هکله معلومات) محرمیت ته احترام د مختلفو سکتورونو تر منځ اعتماد را منځته کوي.

## د. د ریپورټ ورکولو د فورمې  محتویات

د ریپورټ ورکولو دوې فورمې یو شانته نه پیدا کېږي. لکه مخکې چې یې یادونه وشوه، د څارنې او ریپورټ ورکولو سیسټم له هېواده تر بل پورې توپیر سره لري. غوښتل شوي ریپورټونه د محتوا، تفصیل، او د معلوماتو له پلوه سره توپیر لري او په اړتیا او حاجت پورې اړوند وي. خو د کټګوریو او د معلوماتو د څرنګوالي له پلوه زیات ورته والی سره لري. د مثال په توګه په نورو هېوادونو کې له مؤسسو څخه د غوښتل شوو معلوماتو لست په لاندې توګه دی:

(1) د مؤسسې د پېژندګلوۍ په اړه معلومات:

– د مؤسسې نوم او د مؤسسې د ثبت شمېره

– د رپورټ ورکولو موده،

– د مؤسسې مسؤول شخص

– د مؤسسې فزيکي او برېښنايي پته

– د مؤسسې مسؤولان (نوم، پته او اړيکې)

– کاري ساحه/ په مؤسسه کې موجود مهارتونه او د مؤسسې د خدمتونو ډول

2) د پروګرام فعاليتونه

– د پروګرام عمده فعاليتونه

– څه ډول ترسره کېږي،

– د فعاليتونو نتيجې څه دي،

– ګټې پورته کوونکې،

– اقتصادي فعاليتونه

3) داخلی اداره



– د هغو غونډو لسټ چې دايرې شوې دي (عمومي غونډه او د مديره هيــأت غونډه).

– د دايرو شوو غونډو په اساس په اساسنامه کې وارد شوي تعديلونه.

4) د مالي موضوعاتو په هکله معلومات

– د حساب د لومړنيو موضوعاتو په هکله معلومات،

– مثال: د حساب تګلار(مياشتنی يا څلورمياشتنی)

– هبه

– اعانه

– فيس او غړيتوب حق

– د پيسو ټکټ

– هغه پيسې چې د خرڅلاو او يا هم د خدمتونو د وړاندې کولو څخه ترلاســه کېږي

– تحفې

– خارجي مرستې

- د عطیو او مرستو له درکه د کلني درآمد فیصدي
- له نړیوالو منابعو څخه ترلاسه شوې مرستې/ حقیقي لګښتونه
- د ټولو اداري لګښتونو فیصدي(لکه معاشونه، کرایه، سفر، اوبه او برېښنا، حفظ و مراقبت، بیمه او نور)
- د عایداتو او لګښتونو بیلانس

**ر. تطبیق**

په نهایي توګه دا کفایت نه کوي چې یوازې ریپورټ وړاندې کړل شي، بلکې ریپورټ باید مطالعه کړل شي، البته دا بیا د حکومتي مسؤولو نهادونو پر ظرفیت پورې اړه لري. له ریپورټونو څخه ښایي پوښتني هم را ولاړې شي او ښایي د ټیلیفون له لارې حل کړل شي او یا هم د ساحې کتنه او ارزونه ښایي اړینه وي. په هر هېواد کې حکومتي منابع محدودې وي او منتظمین نه شي کولی چې هره مؤسسه او هره پروژه و ارزوي.

## 3. د انجوګانو د قانون پر اساس د ریپورټ ورکولو اړتیا

**الف. څغلنده کتنه**

د انجوګانو د قانون د ۳۱مې مادې پر اساس، ټولې ثبت شوې مؤسسې یا انجوګانې(داخلي او خارجي) باید دوه شپږمیاشتني او یو کلنی ریپورټ او د ۲۷مې مادې پر اساس د مالي ارزونې ریپورټ وړاندې کړي. د ریپورټ



ورکولو فورمه د مؤسسو یا داخلي او خارجي هغو انجوګانو له پاره چې په افغانستان کې فعالیت کوي، یو شانته ده.

### (1) شپږ میاشتنی ریپورټ

د ریپورټ ورکولو دوې فورمې موجودې دي، ۰۱ او ۰۲ فورمې چې په هرو شپږو میاشتو کې باید ډکې کړل شي. ۰۱ فورمه په ټولو ثبت شوو مؤسسو د تطبیق وړ ده او ۰۲ فورمه یوازې په هغه شمېر خارجي مؤسسو چې په افغانستان کې فعالیت لري او نورو مؤسسو ته فنډ وړاندې کوي.

د شپږ میاشتنیو ریپورټونو له پاره د هجري لمریز کلیز ټاکلې شوې ده او له هرو شپږو میاشتو وروسته باید وړاندې کړل شي. غیر دولتي مؤسسې په هرو شپږو میاشتو کې یعني د وږي (د سپټمبر میاشتې له ۲۱مې نېټې وروسته) لومړنی شپږمیاتشنی ریپورټ او دویم شپږ میاشتنی ریپورټ بیا د کال په پای کې باید وړاندې کړي.

### (2) کلنی ریپورټ

خارجي او داخلي دواړې مؤسسې باید کلني تفصیلي ریپورټ چې د فعالیتونو او د مالي موضوعاتو په هکله بشپړ معلومات په کې بیان وي، وړاندې کړي. د کلني ریپورټ له پاره کومه ځانګړې فورمه تیاره شوې نه ده او ددې اختیار یې مؤسسو ته ورکړی چې هر ډول وي د ځان له پاره یې اختیار کړي، او خپل کلنی ریپورټ یې له مخې وړاندې کړي. کلنی ریپورټ د مالي کال تر پای ته رسېدو وروسته د دریو میاشتو په موده کې باید د انجوګانو ریاست ته وسپارل

شي.

### ب. پوښتنې او ځوابونه

**د انجوګانو د رياست دنده څه ده؟**

د انجوګانو د قانون ۴مې مادې د انجوګانو د فعاليتونو د تنظيمولو دنده د اقتصاد وزارت ته سپارلې د:"اقتصاد وزارت په افغانستان کې د غير دولتي مؤسسو د ثبت، څارنې، او د غير دولتي مؤسسو د فعاليتونو د همغږۍ مرجع ده. " اقتصاد وزارت د مؤسسو د ثبت (مؤسسو ته د حقوقي شخصيت د ورکولو)، او د مؤسسو د څارنې (د ريپورټ ورکولو او ارزولو له مخې) مرجع ده. په قانون کې د همغږۍ معنی په واضحه توګه بيان شوې نه ده. که له دې څخه منظور د مؤسسو په فعاليتونو کې د دولت لاسوهنه وي، نو دا بيا د پريشانۍ وړ خبره ده، ځکه دا بيا په آزاده توګه د ټولنو د جوړولو د حق څرګند پايمالول ګڼل کېږي.

په نتيجه کې، ۴مه ماده نور ارګانونه او وزارتونه د انجوګانو له ثبت او څارنې څخه منع کړي دي، خو دا په دې معنی نه ده چې سکتوري وزارتونه نه شي کولی چې د مؤسسو پروژې وڅاري او وزارتونه او دولتي اداري کولی شي چې په اړوند سکتور کې د مؤسسو فعاليتونه وڅاري، د مثال په توګه د عامې روغتيا وزارت کولی شي چې له يوې روغتيايي پروژې څخه څارنه وکړي. د مؤسسو روابط له نورو ادارو سره د يوه تړون او يا هم د موافقت ليک له مخې ټينګېږي، او نورې دولتي اداري له کوم قانوني دليل پرته د مؤسسو د فعاليتونو



د کنټرول او څارنې هېڅ ډول حق نه لري. له بده بخته ځينې داسې موارد شته چې د يوه ولايت والي او يا هم پوليسو د انجوګانو په فعاليتونو کې د ځينو غير ضروري او غير مجاز پوښتنو او ارزونو له مخې لاسوهنه کړې ده.

د اقتصاد وزارت چې د انجوګانو د قانون د ۴مې مادې له مخې دغه وزارت ته کومې دندې سپارل شوې دي، په کابل کې د انجوګانو د رياست له لارې او په ۳۴ولايتونو کې يې د اقتصاد وزارت د ولايتي رياستونو ادارو له لارې پر مخ بيايي. د مؤسسو د ثبت مسؤليت د انجوګانو د قانون په دويم فصل کې صراحت لري، په داسې حال کې د څارنې مسؤليت د انجوګانو د قانون په ۳ او ۴ فصلونو کې صراحت لري او ريپورټ ورکول بيا په ۴م فصل کې راغلي دي. د اقتصاد وزارت د انجوګانو د رياست له لارې ددې صلاحيت لري چې له انجوګانو څخه د فعاليتونو ريپورټ او د مالي برخې ريپورټ وغواړي. همدا راز د انجوګانو قانون د اقتصاد وزارت ته دا صلاحيت ورکړی چې "د کار د کميت او کيفيت په اړه او د پروژې د کارکولو په طرز باندې د مؤسسو د تړون سره سم په ساحه کې ارزونه او څارنه ترسره کړي." (33.1 ماده)

د اهميت وړ موضوع داده چې د اقتصاد وزارت د څارنې نقش به يوازې د مؤسسو تر فعاليتونو پورې وي. د انجوګانو رياست چې د اقتصاد وزارت په استازيتوب د انجوګانو د څارنې مسؤليت لري، نه شي کولی چې د مدني ټولنې له نورو مؤسسو (لکه ټولنيزو ټولنو)، يا نورو نړيوالو تمويلوونکو او يا هم خارجي هېوادونو څخه د معلوماتو غوښتنه وکړي. تر ټولو مهمه موضوع داده چې د انجوګانو رياست بايد پوه شي چې آيا انجو د قانون له احکامو سره د بشپړ سمون له مخې فعاليت کوي که نه؟ نه دا چې مرستې په څه ډول وېشل

کېږي. هغه مهال قانون په بریالیتوب سره تطبیقېږي، چې د ټولنې یا د قانون د تطبیقوونکې مرجع په هکله په ټولنه کې کافي پوهه او احترام موجود وي.

## څوک باید ریپورټ وړاندې کړي؟

ټولې مؤسسې چې غیردولتي یا انجو په توګه فعالیت کوي، که هغه خارجي وي او که داخلي چې د ۲۰۰۵م کال کې د انجوګانو د نافذ شوي قانون له مخې ثبت شوې دي، باید ریپورټ وړاندې کړي.

## په مؤسسو باندې په یوه کال کې د څو ریپورټونو وړاندې کول لازمي دي؟

د قانون د مادو او حکمونو پر بنسټ، مؤسسې په دوه ډوله ریپورټونو ورکولو مکلفې دي: شپږ میاشتنی ریپورټ او کلنی ریپورټ. قانون په ډېره واضحه توګه نه ده بیان کړې چې د ریپورټ محتویاتو کې به کوم موضوعات شامل وي او یا دا چې په څه ډول به تطبیقېږي. همدا راز قانون د داخلي او خارجي مؤسسې تر منځ توپیر ته هم نه دی قایل شوی.

## شپږ میاشتنی ریپورټ

په عمل کې یوه داخلي مؤسسه باید (۰۱) فورمه له هرو شپږو میاشتو فعالیت وروسته او د هرې پروژې له پاره ډکه کړي، او خارجي او نړیوالې مؤسسې هم باید(۰۱) فورمه د هرې هغې پروژې له پاره چې په افغانستان کې تطبیقېږي ډکه کړي.



پر دې سربېره، خارجي او نړیوالې مؤسسې چې داخلي مؤسسو ته فنډ ورکوي باید (۰۲) فورمه ډکه کړي. د یادونې وړ ده چې داخلي مؤسسې د (۰۲) فورمې په ډکولو مکلفې نه دي. او همدا راز هغه بهرنۍ مؤسسې چې نورو مؤسسو ته فنډ نه ورکوي، د (۰۲) فورمې په ډکولو مکلفې نه دي.

دواړه فورمې د اقتصاد وزارت د انجوګانو د ریاست څخه ترلاسه کېدلی شي.

د کلني ریپورټ له پاره کوم معیاري یا سټنډرډ شکل موجود نه دی. د انجوګانو ریاست مؤسسې آزادې پرېښودې دي چې په خپله خوښه د فعالیتونو کلني تفصیلي ریپورټونه او د مالي موضوعاتو په هکله تفصیلات د انجوګانو ریاست ته وړاندې کړي.

## د ریپورټونو د تایید له پاره څه ډول سندونو ته اړتیا شته؟

د شپږ میاشتني ریپورټ په ضمیمه کې مؤسسه باید د خپلو فعالیتونو یو تصدیق له تمویلوونکې ټولنې او یا هم له سکتوري وزارتونو څخه واخلي، یعنې دا چې په دې برخه کې مؤسسو ته اختیار ورکړل شوی چې کومه مرجع (تمویلوونکې ټولنه که سکتوري اداره) انتخاب کړي. دغه موضوع په (۰۱) فورمه کې ځای پر ځای شوې ده. د انجوګانو د ریاست له مخې د دغه تاییدي سند د غوښتنې اساسي هدف دا دی چې د انجوګانو ریاست د تمویلوونکې ټولنې له خوا او یا هم د سکتوري وزارت له خوا د پروژې د څارنې په هکله ډاډ ترلاسه کړي.

(۲) پر دې سربېره، که پروژه د کوم تړون پر بنسټ را منځته شوې وي، د غیردولتي مؤسسو ریاست بیا د یوې کاپۍ تړون یا قرارداد غوښتنه کوي، چې د

انجوګانو رياست بيا دغه ترون د مؤسسو د ريپورټونو د ارزونې په برخه کې کاروي.

**د تمويلوونکې ټولنې يا سکتوري ادارو له خوا د تصديق وړاندې کولو هدف څه دی؟**

د سکتوري ادارو له خوا د تصديق د وړاندې کولو هدف دا دی چې؛ لومړی خو بايد پروژه له سکتوري وزارت سره په تفاهم د خلکو د اړتياوو پر بنسټ په نظر کې ونيول شي، دويم سکتوري ادارې د پروژې د تطبيق پر مهال د قانوني مکلفيت له مخې د پروژې بهير او پرمختګ څارې او د پروژې له پای ته رسېدو وروسته د سکتوري ادارو له خوا يې په تسليمۍ کې ستونزه نه وي. همدا راز تطبيقوونکې مؤسسې د فعاليتونو د تصديق څخه فنډ ورکوونکې مؤسسه د خپل فنډ د کنټرول او څارنې باندې مکلفوي چې په دې توګه د بودجې د کيفيت او لګښتونه کنټرولېږي او د سکتوري ادارو او تمويلوونکو ټولنو د بې خبرۍ څخه مخنيوی کوي.

**ريپورټونه څه وخت بايد وړاندې کړل شي؟**

کلنې ريپورټونه د مالي کال له پای ته رسېدو وروسته د دريو مياشتو په بهير کې بايد وړاندې کړل شي. د انجوګانو د قانون 31.1 ماده په دې اړه صراحت لري. پر دې سربېره مؤسسه مکلفه ده چې د مالي ارزونې يوه يوه کاپي اقتصاد او ماليې وزارتونو ته وړاندې کړي. مالي کال د دولت د مالي کال پر اساس ټاکل کېږي او مؤسسې مکلفې دي چې د هغې پر اساس خپل ځانونه عيار کړي.



قانون د شپږ مياشتني ريپورټ په اړه سکوت اختيار کړی، چې دا بيا د قانون کمزوري ښيي، ځکه څرګنده نه ده چې شپږمياشتني ريپورټونه څه وخت وړاندې کړل شي. چې بايد په ۳۱مه ماده کې بدلون راوړل شي. عملاً مؤسسې د هجري لمريز او يا هم عيسوي کال له پيله تر شپږو مياشتو پورې شپږ مياشتني ريپورټونه وړاندې کوي.

**ريپورټونه بايد کوم ځای ته وړاندې کړل شي؟**

د انجوګانو د قانون ۳۱مه ماده مؤسسې مکلفوي چې خپل کلنې او شپږ مياشتني ريپورټونه د اقتصاد وزارت ته وړاندې کړي. د 31.3 ماده توضح کوي چې شپږ مياشتنی ريپورټ بايد په يوه اصل او دريو کاپيو کې د اقتصاد وزارت مرکزي او ساحوي دفترونو ته د وړاندې کولو له پاره تيار کړل شي. عملاً دغه موضوع په لاندې ډول عملي کېږي:

- سسسسپه هغه صورت کې چې د مؤسسې مرکزيت په کابل کې وي، بايد خپل ريپورټ د اقتصاد وزارت د انجوګانو رياست ته وړاندې کړي.
- په هغه صورت کې چې د مؤسسې مرکز په کابل کې وي او په ولايتونو کې هم فعاليت ولري، مؤسسه مکلفه ده چې د خپل ريپورټ اصل په کابل کې د اقتصاد وزارت د انجوګانو رياست ته ولېږي او ددغه ريپورټ يوه کاپي اړوند ولايت کې چې دوی کار کوي د اقتصاد وزارت ولايتي رياست ته واستوي.

- په هغه صورت کې چې د مؤسسې مرکزیت په یوه ولایت کې وي، مؤسسه مکلفه ده چې د خپل ریپورټ اصل په هماغه ولایت کې چې د مؤسسې مرکز په کې دی د اقتصاد وزارت ولایتي ریاست ته وړاندې کړي او بیا د ولایتي ریاست دنده ده چې د مؤسسې د ریپورټ کاپي د انجوګانو له ریاست سره په مرکز کې شریکه کړي.

پر دې سربېره، 31.5 ماده مؤسسې مکلفوي چې د خپلو ریپورټونو یوه کاپي سکتوري اړوند وزارت ته هم واستوي. که دې موضوع ته په پراخه کچه وکتل شي، نو د تطبیق وړ نه ښکارېږي، ځکه یو شمېر غیر دولتي مؤسسې په کوم مشخص سکتور پورې اړه نه لري او یا هم یو شمېر مؤسسې په داسې فعالیتونو لګیا دي چې په څو سکتورونو پورې اړه لري. عملاً ځینې سکتوري وزارتونه چې غیر دولتي مؤسسې یې د صلاحیت په ساحه کې کار کوي، له غیر دولتي مؤسسو څخه د ریپورټ غوښتنه کوي.

**ولې مؤسسې وزارتونو ته او یا هم سکتوري ادارو ته په ریپورټ وړاندې کولو مکلفې دي؟**

د غیردولتي مؤسسو قانون 31.5 مه ماده مؤسسې مکلفوي چې د خپلو شپږ میاشتنیو ریپورټونو یوه کاپي سکتوري اړوندو وزارتونو ته واستوي. یقیني خبره ده کله چې کومو مؤسسو له اړوندو سکتوري وزارتونو سره تړون لاسلیک کړی وي، باید اړوندو وزارتونو ته ریپورټونه ولېږي. د مثال په توګه که یوه غیر دولتي مؤسسه په نظر کې ونیسو چې د عامې روغتیا د وزارت له خوا تمویلېږي چې یو کلینک فعال وساتي. دغه مؤسسه باید د عامې روغتیا وزارت ته ریپورټ



ولېږي. پر دې موضوع برسېره سکتوري وزارتونه د خپلو فعالیتونو په ساحه کې له مؤسسو څخه پرته له دې چې دوی یې تمویلوي که نه، د ریپورټونو غوښتنه کوي. د پورتنیو موضوعاتو په نظر کې نیولو سره هغه مؤسسې چې په کوم سکتوري وزارت پورې اړه ونلري، بیا د ریپورټ ورکولو مکلفیت نه لري.

**آیا ریپورټونه باید د اقتصاد وزارت ولایتي ریاستونو ته وړاندې کړل شي؟**

په هغه صورت کې چې غیر دولتي مؤسسه په کابل کې مرکزیت ولري خو فعالیت یې په ولایتونو کې وي، مؤسسه په مرکز کې د اقتصاد وزارت ته د ریپورټ وړاندې کولو مکلفیت لري او دغه راز په اړوند ولایت کې د اقتصاد وزارت ریاست ته د همدغه ریپورټ د یوې کاپۍ د وړاندې کولو مکلفیت هم لري.

په هغه صورت کې چې مؤسسې مرکزي دفتر په یوه ولایت کې وي، نو پر دې اساس ریپورټ هم باید په هماغه ولایت کې اړوند ریاست ته وړاندې کړل شي، او وروسته باید اړوند ریاستونه د ریپورټ یوه کاپي د انجوګانو ریاست ته را ولېږي.

**آیا د انجوګانو ریاست د ریپورټ د ترلاسه کولو په بدل کې د رسید سند وړاندې کوي؟**

د غیر دولتي انجوګانو ریاست او د اقتصاد وزارت ساحوي دفترونه د شپږ میاشتني ریپورټ د ترلاسه کولو په بدل کې د رسید د ورکولو مکلفیت لري. "د شپږ میاشتنیو ریپورټونو په هکله مؤسسه مکلفه ده چې د خپلو ریپورټونو یو

اصل او درې کاپي ګانې د انجوګانو رياست او يا هم د اقتصاد وزارت ساحوي دفترونو ته البته د رسيد د ترلاسه کېدو په مقابل کې واستوي". د رسيد صدور د نړيوالو ښو تجربو سره بشپړ مطابقت لري، او دواړه لوري هم د اقتصاد وزارت او هم مؤسسه په دې باوري کوي چې ريپورټ په خپل وخت وړاندې کړل شوی دی.

**ريپورټونه بايد په کومو ژبو ترتيب کړل شي؟**

د قانون 31.4 ماده صراحت لري چې ريپورټ بايد په يوه دغو رسمي (پښتو يا دري) ژبو تيار او ترتيب کړل شي. خو ځينې نړيوالې مؤسسې دا ګوت ځنډنه کوي چې د ريپورټ ژباړل وخت نيسي او هم ګران تماميږي. خو په عمومي توګه د قانون له مخې ريپورټونه بايد په محلي ژبو ترتيب کړل شي.

**آيا مؤسسې د مالي ارزونې د ريپورټ په وړاندې کولو مکلفې دي؟**

د قانون ۲۷مه ماده د مالي موضوعاتو د ثبت او د مؤسسو د مالي ارزونې په اړه صراحت لري. لومړۍ فقره د ټولو مالي موضوعاتو د ثبت او د ترون په هکله يې د اقتصاد وزارت د ارزوونکو او څارونکو ته د وړاندې کولو په اړه صراحت لري. دغه حالت د نړيوالو ښو تجربو سره سمون لري چې د مؤسسو د روڼولۍ او حساب ورکولو په اړه ډېر اغېزمن واقع کېږي.

د قانون د همدې مادې دويم جز مؤسسې مکلفوي چې د مالي کلنۍ ارزونې ريپورټ په نړيوالو معيارونو برابر جوړ کړي او د اقتصاد وزارت ته يې ولېږي. مالي تفتيش د انجوګانو د حساب ورکولو او شفافيت تر ټولو ښه وسيله ده. په



زياترو هېوادونو کې مالي ارزونه يوازې په هغه شمېر مؤسسو د تطبيق وړ دی چې له دولت يا له خلکو (د ماليې د معافيت او نورو) مرستې ترلاسه کوي او يا هم په هغو شمېر مؤسسو چې سترې پروژې تطبيقوي. که چېرې ټولې مؤسسې د مالي ارزونې د ريپورټ په وړاندې کولو مکلفې وګرځول شي، نو دا يو غير ضروري کار دی او د ځينو مؤسسو له پاره ناشونی کار هم دی. د مسلکي مفتش لګښت زيات وي چې په دې توګه د اداري لګښتونو د زياتوالي لامل ګرځي. او يو شمېر وړې مؤسسې ښايي ددغه ډول کار توان ونه لري. د قانون ددغې مادې په دويم جز کې صراحت شوی دی چې هغه مؤسسې چې ظرفيت يې ټيټ وي، کولی شي له متبادلو لارو چارو استفاده وکړي، چې دغه بديلې لارې چارې هم په واضحه توګه څرګندې نه دي، چې بايد اقتصاد او مالي وزارتونه دغه بديلې لارې چارې را وپېژني.

**د اقتصاد وزارت مسؤوليتونه د وړاندې شوو ريپورټونو او د مطالعې په اړه څه دي؟**

د قانون ۳۲مه ماده صراحت لري چې شپږمياشتني ريپورټونه بايد و ارزول او تحليل شي. د دغې مادې لومړی جز، د اقتصاد وزارت مکلفوي چې د ريپورټ د ترلاسه کولو وروسته د ۹۰ ورځو په بهير کې ريپورټ مطالعه کړي، او له نتيجې څخه مؤسسې ته خبر ورکړي. ددې حکم هدف دا دی چې ريپورټ په چټک مهال کې مطالعه کړل شي، خو دا چې مؤسسې ته يې خبر ورکړل شي، دا نو په اقتصاد وزارت يو اضافي بار دی او دغه کار په نورو هېوادونو کې هم معمول نه دی. څارونکي نهادونه په هغه صورت کې چې ريپورټ نيمګړی او يا دا چې غلط وي له مؤسسو سره بايد اړيکې ټينګې کړي چې ستونزه رفع کړي،

خو اړينه نه ده چې د مطالعې له نتيجې څخه مؤسسې ته خبر ورکړي. ددغې مادې دويم جز د اقتصاد وزارت مکلفوي چې د نړيوالې مؤسسې د ريپورټ يوه کاپي د بهرنيو چارو وزارت ته ولېږدوي.

**څه ډول همغږي د انجوګانو د رياست، د سکتوري وزارتونو، د ماليې وزارت او د امنيتي ارګان تر منځ موجوده ده؟**

د قانون زيات شمېر حکمونه د انجوګانو د رياست د سکتوري اړوندو وزارتونو او د امنيتي ارګان تر منځ د اړيکو او يا هم همغږيو په اړه صراحت لري:

– ۱۶مه ماده د بهرنيو مؤسسو د درخواستي په اړه صراحت لري چې د اقتصاد وزارت بايد د درخواستي يوه کاپي د بهرنيو چارو وزارت ته د مطالعې او کتنې له پاره ولېږي او د بهرنيو چارو وزارت ته بايد د هغې د مطالعې او په هکله يې د نظر د وړاندې کولو په هکله فرصت ورکړي.

– ۱۷مه ماده د ارزونې د عالي کميسون په اړه صراحت لري چې دغه کميسون له پنځو استازو تشکيل شوى دى. چې په دې کې بيا دغه وزارتونه شامل دي: د اقتصاد وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، د ماليې وزارت، د عدليې وزارت، او د کار،ټولنيزو، شهيدانو او معلولانو د چارو وزارت په کې شامل دي. دغه کميسون د مؤسسو د ثبت او انحلال په اړه صلاحيت لري.

– ۱۸مه ماده د اقتصاد وزارت مکلفوي چې د بهرنيو مؤسسو د اسنادو يوه بشپړه کاپي د بهرنيو چارو وزارت او اړوند سکتوري وزارت ته واستوي او



دغه راز د کورنيو چارو زارت د ثبت شوو مؤسسو په اړه خبر کړي، او د اړتيا پر وخت له اړوندو وزارتونو سره اړوند اسناد شريک کړي.

– ۳۲مه ماده د اقتصاد وزارت مکلفوي چې د بهرنيو مؤسسو د کلنې ريپورټ يوه مختصره کاپي د بهرنيو چارو وزارت ته واستوي.

– ۳۳مه ماده، سکتوري اړوند وزارتونه مکلفوي چې پروژې له تخنيکي پلوه تر څارنې او ارزونې لاندې ونيسي او په هکله يې ريپورټ د اقتصاد وزارت ته ولېږي.

– ۴۶مه ماده، دولتي ارګانونو ته اجازه ورکوي چې د اقتصاد وزارت له لارې د مؤسسې په هکله د اړتيا وړ معلومات ترلاسه کړي. ، دا چې تر کومه حده دغه حکم عملي دى، دا خبره واضح نه ده.

**آيا د مؤسسې د اسنادو او محرمو معلوماتو د ساتنې ملاتړ شته دى؟**

د انجوګانو د قانون د ۴۵مه ماده، مسؤولان او د مؤسسې کارمندان د محرمو معلوماتو د افشا کولو څخه منع کړي دي، په ځانګړې توګه، د پروژې په اړه د اسنادو، د فرهنګي آرشيف، يا د نظامي قرارګاه په اړه. خو په دې اړه د حکومت په وړاندې کوم صريح حکم نشته چې تر کومه حده حکومت خلکو ته

معلومات ورکولی شي. یا د قانون او یا هم د مقرراتو او لوایحو له مخې باید دغه موضوع واضح کړل شي.

**د مؤسسو له خوا د ریپورټ د نه وړاندې کولو له مخې به څه پېښ شي؟**

د قانون47،6 مه ماده د مؤسسو له خوا د کلني ریپورټ د نه وړاندې کولو او یا هم د ناسم ریپورټ د وړاندې کولو په اړه صراحت لري. په دواړو صورتونو کې به مؤسسه له ۱۰۰۰ تر ۵۰۰۰۰ افغانیو پورې جریمې سره مخامخېږي. جریمه باید د ارزونې د عالي کمیسون له خوا تایید کړل شي. تر دې دمه پورې وزارت کومه مؤسسه نه ده جریمه کړې.

**س. د ریپورټ ورکولو د (۰۱) فورمې توضیح:**

هغه اصطلاحات چې د ریپورټ ورکولو په فورمه کې راغلي په لاندې توګه دي:

الف برخه:

د مؤسس نوم ( ) د مؤسسې مخفف ( )

کاري سکتور ( ) شپږ میاشتنی ( )

هجري لمریز کال ( ) د میلادی کال مطابق ( )



ب برخه:

1- شمېره

2- د پروژې نوم

3- د پروژې موقعیت

4- سکتوري اړوند اداره

5- 6 – د پروژې موده ( د پیل او پای نېټه)

7- د پروګرام یا خدمتونو څرنګوالی

8-9- د تمویل سرچینې ( خارجی یا داخلی)

10- د کار د پرمختګ فیصدي

11- د پروژې ټوله بودجه

12- د پروژې پخواني لګښتونه

13- د پروژې اوسني لګښتونه

14- په افغانستان کې د مرکزي دفتر د اداري لګښتونو په شمول د پروژې اوسني اداري لګښتونه

15- ټول لګښتونه

16- د پروژې ټول لګښتونه

17- باقي مانده مالي مرستې

18- د اقتصادي فعاليتونو څخه د مؤسسې عايد

19- د جنسي (غير نغدو) مرستو مقدار او ارزښت

20- ملاحظات

ج برخه:

21- د پروژې هدفونه

22- مستقيم او غير مستقيم ګټې پورته کوونکي

23- ټولنيزې او اقتصادي اغېزې

24- کومې مرجع پروژه څارلې ده

25- د پروژې د دربدو دليلونه

26- د پروژې د اغېزمنتيا تصديق



27- د مؤسسې د مسؤول تصديق

**د تطبيقوونکو مؤسسو په وسيله د (۰۱) فورمې د ډکولو طريقه:**

**الف : د (۰۱) فورمې پاسنۍ برخه:**

له مؤسسې څخه وروسته په تش ځای کې د تطبيقوونکې مؤسسې بشپړ نوم ليکل کېږي، د مؤسسې له نوم وروسته تش ځای کې، د مؤسسې مخفف ليکل کېږي. د کاري سکتور په تش ځای کې د پروژې څرنګوالی چې يعنې په کوم سکتور کې اجرا کېږي هغه ليکل کېږي، لکه د روغتيا، ښوونې او روزنې، زراعت او يا هم عدلی او قضايي سکتورونه او يا هم د ملي پيوستون سکتور او نور هلته ليکل کېږي. د هجري لمريز کال په تش ځای کې د هجري لمريز نېټه لکه ۱۳۸۷ او يا هم د له دې نېټې څخه وروسته نېټې ليکل کېږي، او د ميلادي کال په تش ځای کې د پروژې د تطبيق هماغه ميلادي کال ليکل کېږي. د فورمې په پاسنۍ برخه کې د فورمې په بشپړه توګه د ډکېدو نېټه ليکل کېږي، چې په دې توګه هماغه نېټه د تطبيقوونکې مؤسسې له پاره د رپوټ ورکولو په رسيد کې هم ليکل کېږي.

**ب: د(۰۱) فورمې منځنۍ يا د شمېرو برخه:**

تطبيقوونکې مؤسسې يوازې د (۰۱) فورمې په تطبيقولو مکلفې دي او د (۰۲)فورمې د تطبيقولو مکلفيت نه لري. د (۱) شمېرې لاندې يوازې (۱) شمېره درجېږي او د دويمې پروژې په صورت کې د عين سکتور څخه (۲) مه او په همدې ترتيب نورې شمېرې وليکي. د (۲) مې شمېرې لاندې د پروژې

نوم د لاسلیک شوي قرارداد مطابق لیکل کېږي. د (۳) مي شمېرې لانـدې د پروژې موقعیت لکه ولایت، ولسوالي او کلی لیکل کېږي. د (۴) شمېر لاندې د سکتوري وزارت یا اداري نوم لیکل کېږي، لکه د پوهنې، روغتیا، زراعت، د ښځو د چارو او نورو وزارتونو او ادارو نوم لیکل کېږي. (یادونـه: پـه هغـه صورت کې که کومه پروژه له مشخص سکتور سره اړیکې ونه لري، دغه ځای دې تش پرېښودل شي). د (۵) مي شمېرې لاندې د پروژې د قرارداد سره سم د پروژې د پیلېدو او پای ته رسېدو نېټې لیکل کېږي. تر (٦) مي شمېر لاندې د پروژې د پایته رسېدو په صورت کې د پروژې د پایته رسېدو نېټه لیکل کېږي او که پروژه دوامداره وي، نو تر (٦)مي شمېرې لاندې تش ځای کـې دوامـدار لیکل کېږي. تر (۷)مي شمېرې لاندې د پروژې څرنګوالی لکه د ښوونځي یـا کلینیک تعمیراتي کار، د عامه پوهاوي، له ښوونځي مخکې تعلیمي پروګرام، د ښځو خودکفایي، د نیالګیو کښېنولو د پټیو جوړول او د روغتیـایي خـدمتونو وړاندې کول او نور ذکر کېږي. تر (۸) مـې شـمېرې لانـدې د داخلـي تمویلوونکي نوم ذکر کېږی. تر (۹)مي شمېرې لاندې د خارجي تمویلـوونکي نوم ذکر کېږي. تر (۱۰) مي شمېرې لاندې د پروژې د پرمختګ فیصدي یـا سلنه د ریپورټ د وړاندې کولو پر مهال ښودل کېږي، او په هغه صورت کـې که پروژه ساختماني وي، فزیکي حالت یا د کار د پرمختګ فیصدی په کې ذکر کېږي. او په هغه صورت کې که پروژه د تجهیزاتو یا سامان آلاتو د خریـداری په اړه وي، د فنډ یا بودجې د لګښت فیصدي په کې ذکر کېږي. که د پروژې قرارداد د ورکشاپ یا د ظرفیتونو د لوړولو په هکله وي، نو بیا د تېـر شـوي وخت په نظر کې نیولو سره د ریپورټ وړاندې کولو پـر مهـال د پرمختـګ فیصدي په کې ذکر کېږي. د (۱۱) مي شمېرې لاندې ټول منظور شوی فنـډ



چې په قرارداد کې ذکر دی، لیکل کېږي. تر (۱۲)مې شمېرې لاندې په هغـه صورت کې که تر شپږ میاشتني ریپورټ وړاندې کوم لګښتونه شوي دي هغـه پخواني ترسره شوي لګښتونه دلته ذکر کېږي. تر (۱۳)مې شمېرې لانـدې د پروژې فعلي لګښتونه چې د شپږو میاشتو په بهیر کې شوي دي، ذکر کېږي. تر (۱۴)مې شمېرې لاندې د پروژې اداري لګښتونه د مرکزي دفتر د لګښتونو په شمول په هغه صورت کې که په قرارداد کې د اداري لګښتونه معلوم وي، پـه ټولیزه توګه د مرکزي دفتر له لګښتونو سره یو ځای ذکر کېـږي. پـه هغـه صورت کې که اداري لګښتونه معلوم نه وي، او مؤسسه د څو پروژو لرونکې وي، تطبیقوونکې مؤسسه دې یوازې د مرکزي دفتر لګښتونه چې پـه هغـې د کارمندانو معاشونه، د دفتر کرایه، خریداری، قرطاسیه، ټکس او نور پـه یـوه (۰۱) فورمه کې ذکر کړي، په باقي نورو (۰۱) فورمونو کې دې یې تکرار نـه لیکي. تر (۱۵) مي شمېرې لاندې د لومړنیو شپږ میاشتو او دویمو شپږ میاشـتو مجموعي لګښتونو څخه د اوسنیو شپږ میاشتو اداري لګښتونه او د مرکزي دفتر لګښتونه دې سره یو ځای کړي او په یاد شوي ستون کې یې دې ولیکي. تـر (۱٦) مي شمېرې لاندې د پروژې د پخوانیو لګښتونو مجموعه د شپږو لومړنیو میاشتو او شپږو دویمو میاشتو له لګښتونو سره جمع کېږي او په ټول ټال(کلي) لګښتونو کې ذکر کېږي. تر (۱۷)مې شمېرې لاندې د باقي شوي فنډ مقـدار لیکل کېږي، په دې صورت کې د پروژې د شپږو جاري میاشـتو لګښـتونه د پخوانیو لګښتونو سره جمع کېږي او د پروژې د ټول قیمت څخه منفي کېږي، چې په دې توګه باقي شوي رقم دلته لیکل کېږي. تر (۱۸)مې شمېرې لانـدې په هغه صورت کې چې پروژه د تطبیق په حال کې وي، لکه د نیالګیو له پاره د جوړو شویو پټیو پروژه چې د څو کلونو له پاره وي، او هر کال یو شمېر نیالګي

ترې خرڅېږي، او یا د لاسي صنایعو پروژه چې د څو کلونو له پاره وي، چې د لاسي صنایعو د خرڅلاو له لارې د پروژې له پاره عاید ترلاسه کېږي او یا په داسې صورت کې چې پروژه روغتیایي وي، چې د صحي خدمتونو د وړاندې کولو په بدل کې د فیس اخیستلو او یا هم د دارو درملو د خرڅلاو له مخې د پروژې له پاره عاید ترلاسه کېږي، د شپږو میاشتو د ریپورټ ورکولو پر مهال پروژه که هر ډول وي، ترې ترلاسه شوي عایدات په دغه ستون کې لیکل کېږي. تر (۱۹) مې شمېرې لاندې د شپږو میاشتو مودې په جریان کې، یعنې د شپږ میاشتني ریپورټ ورکولو په بهیر کې د یوه ډونر یا انفرادي اشخاصو له خوا یا د کومې کمپنۍ له خوا پر منظور شوې بودجه سربېره چې کومې نغدې یا د جنس مرستې کېږي، تطبیقوونکې مؤسسه د هغه مرسته شوی جنس معادل قیمت یا د ترلاسه شوو نغدو پیسیو مقدار په دغه ستون کې لیکي. تر (۲۰)مې شمېرې لاندې د تطبقوونکې مؤسسې له خوا د پروژې د تطبیق په اړه که کوم نظر یا ملاحظات موجود وي په دغه ځای کې لیکل کېږي.

**ج. د (۰۱) فورمې لاندینۍ برخه**

لومړۍ (۱) شمېره کې د پروژې هدف په مختصره توګه په پروپوزل یا تړون کې د ذکر شوي هدف سره سم، ذکر کېږي. دویمه (۲) شمېره کې د پروژې د مستقیمو او غیر مستقیمو ګټو پورته کوونکو شمېر په عدد سره ښودل کېږي. درېمه (۳) شمېره هغه ټولنیزې او اقتصادي اغېزې چې د پروژې د تطبیق له مخې په خلکو یا ګټو پورته کوونکو او یا هم په چاپېریال او ځای باندې لوېږي، په مختصره توګه بیانوي. څلورمه(۴) شمېره مختلفې هغه مراجع چې د شپږو میاشتو په موده کې یې له پروژې څخه لیده کاته کړي وي، بیانوي. چې په دې



توګه څرګنده کړل شي چې مسؤول مراجعو خپلې دندې ترسره کړې دي که نه؟ پنځمه (۵) شمېره کې د پروژې د کار د درېدو دلیلونه وړاندې کېږي. لکه امنیتي، او یا هم د بودجې د نه پیدا کېدو او یا هم د هوا د یخنۍ له امله او یا نور عوامل چې له مخې د پروژې کار په ټپه درېږي دا ټول دلیلونه په کې ذکر کېږي. شپږمه (٦) شمېره د له سکتوري اداري یا ډونر څخه لازمه ده چې په دغه ځای کې تصدیق وړاندې کړي، او یا هم په ځانګړې پاڼه کې د اجرا شوو فعالیتونو او خدمتونو په اړه چې په شپږ میاشتني ریپورټ کې ذکر شوي دي، تصدیق وړاندې کړي. اومه (۷) شمېره ددغې (۰۱) فورمې د پروژې د مسؤول د نوم او لاسلیک لاندې، د پروژې یا مؤسسې د مالي مسؤول او یا هم د تطبیقوونکې مؤسسې د مسؤول او یا رئیس له خوا مهر او لاسلیکېږي.

**د فورمو د ډکولو او وړاندې کولو طریقه (۰۲)**

دغه فورمه یوازې د تمویلوونکو یا ډونرو مؤسسو له خوا چې د تطبیقوونکو مؤسسو له خوا د پروژو له پاره هغه بودجه یا فنډ چې لګول کېږي، ډکېږي او د انجوګانو ریاست ته لېږدول کېږي. او له دغې فورمې څخه هدف دا دی چې د انجوګانو ریاست وپوهېږي چې ذکر شوې پیسې چې د ډونریا تمویلوونکې ټولنې له خوا لګښت له هغه لګښت سره چې تطبیقوونکې مؤسسې په (۰۱) فورمه کې وړاندې کړی دی، مقایسه کېدلی شي، چې آیا دواړه ارقام سره یو شان دي که نه/ او په دې توګه باید متفاوت رقم ذکر نه کړل شي.

څکه ډونر مؤسسو یوازې د هغو پروژو فهرست چې په تړون کې د درج شوې بودجې یا فنډ سره سم وي په فورمه کې درج کړي دي، او د هرې پروژې

لګښتونه د سند له مخې ورکوي، چې دا ټول په فورمه کې ذکر کوي. او په ضمن کې تمويلوونکې مؤسسې په دې مکلفوي چې د پروژې د لګښتونو او پرمختګ په اړه باخبره وي.

په (۰۲) فورمه کې د سکتوري ادارو تصديق ته اړتيا نشته، او همدا راز د (۰۱) فورمي غوندې د معلوماتو د درجولو اړتيا هم نه ليدل کېږي. يوازې د شپږو مياشتو په موده کې د حسابونو او لګښتونو د ورکړې ذکر کېږي. او (۰۲) فورمه د تمويلوونکې مؤسسې د رئيس له خوا لاسليک او ټاپه کېږي او د انجوګانو رياست ته استول کېږي. او دې ته اړتيا نه لري چې د تطبيقوونکو مؤسسو په شان نورو مراجعو ته هم ريپورټ ورکړي. په دغه صورت کې چې له سکتوري وزارتونو سره يې کوم تړون لاسليک کړی وي، په خپله دونره مؤسسه له يادو شوو ادارو سره اجراات کوي.

يادونه: (۰۲) فورمه د تطبيقوونکو مؤسسو له خوا نه ډکېږي.

ضميمې:

د ريپورټ ورکولو ۰۱ فورمه

د ريپورټ ورکولو ۰۲ فورمه